مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۹/۰۸

د ښوالک، څک دېوال او که ولاړ دېوال

دا ځل بیا په یوه داسي کلي باندي لیکنه لرو؛ چي یو لوی پېښلیک په کي خوندي دی، هغه د جغتو ولسوالۍ شمال لور ته پروت د دېوالک کلی دی؛ ځوښي، سباڅنګ، سنځلي، کلاندي او تېکي په منځ کي اباد شوی دی، که په طبعي ډول ورته وګورو دا کلی د غونډیو په منځ کي خپل شتون راښیي چي له همدي مخي به دېوالک وي او په واقیعت کي دا څه د دېوالونو په ارزښت راټول دي.
دېوالونه که څه هم ډېر وړاندي جوړشوی دي خو تر ننه یي خپل ارزښت له لاسه ورکړی نه دی چي د ځان ساتني ، پولي ټاکني ،ښارساتني ،هېوادساتني، هستوګنځي ،ملکیت خوندي کولو ،ښکلا ،یادښتونو اوتاریخي څلو لپاره په بېلا بېلو بڼو جوړ شوي دي او لا د جوړېدو په حال کي دي.
په نړۍ کي د دېوالونو د جوړښت مخینه له میلاد څخه هم وړاندي ده، خو زموږ په هېواد کي هم دا څه تر نورو کم نه دي؛ هغه د کابل ښار په منځ کي د اسمایي او شېر دروازي په غرونو کي د یفتلیانوپه زمانه کي په پنځمه زېږدیزه پېړۍ کي راهسک شوی دی اود بابرشاه او احمدشاه بابا په وختونو کي دوه ځله رغېدلی دی.
همدا شان اوس نو دېوالک کلی چي دوه تر دری سوه کاله وړاندي مخکي پرې هستوګنه شوي ده ، د هماغه وخت د خلکو له خولي را پاتي معلومات ښیي چي په دي ځای کي یو ولاړ دېوال شتون درلود چي دېوالک یي له مردلي له کلي سره نښلولو چي اوږدوالی یي تقریبا د اوه کیلومترو په شاو خوا کي و ، تنها په دوه ځایونو کي چي مردلي او دېوالک په کلیو کي پاتي شوني موندل شوي دي، سور یي د تهدابونو له مخي دوه متره دی ، دا سلطان محمود غزنوي د سلطنت پر وخت غرځه (وحشي ژوي)د دېوال تر څنګ تېرېدل ، دا په دي مانا چي دا دېوال تر دي اندازي لوړ و چي دا ډول ژوي تري تېرېدلی نشوی ، د همدغه پاتي شونو له مخي څرنګه چي دلته د مېشت کېدو پر وخت دېوال یوه برخه هسکه وه نو دېوالک ونومول شو.
که څه هم د جغتو د تاریخي مخیني په اړه د زاهېر تسوان لاسوند شتون لري،همدا شان کېدای شي د دي دېوال جوړښت مخینه ډېر لرغونو زمانو ته ور وګرځي ، هماغه پا چایان چي د جغتو په مختخلفو برخو کي یي د خپل ځواک مانورې کولي کېدای شي دوی د حرم سرای یوه برخه وي، یا د سلطنت د دربار د ساتني د کمربندپه موخه رامنځ ته شوی وي، تر ډېره شک په یفتلیانو باندي کېدای شي چي په جغتو کي د سلطان بند ته څېرمه ابتلي په نوم باندي کلی هم شته دی ، څرنګه چي په هېواد کي دا ډول دېوالونومخینه د یفلتیانو ته ورګرځي چي دوی دا ښه شهکار د کابل تاریخي دېوال دی ،دا دېوال چي د دېوالک نوم ورڅخه را وتلی دی ؛ځګه پاتي شوی نه دی چي زیات لرغونی دی ،د همدغه وخت وروسته ورته سیمو ته خلکو او چارواکو پاملرنه کمه شوي ده او بیا رغوني لپاره یي هېڅ ګام اخستل شوی نه دی.
اوس نو پوښتنه دا ده ؛چي دا اوس د ښوالک ، څک دېوال او که ولاړ دېوال دی، دېوالک که په دري ژبه کي وڅېړل شي د وړوکي دېوال مانا ورکوي حال دا چي دا دېوال ډېر اوږدوالی لري حال دا چي دا پښتو نوم دی څک دېوال به ځګه ورته واویو د هغه ځمکو پرتله چي دا دېوال په کي اباد وو لوړي وي چي دلته د څک کلیمه د څوکي یا د غره د لوړي برخي سره تړاو مومي او ولاړ دېوال به ځګه ورته واویو چي د دېوالک د کلیمي د نچوړ څخه د ولاړ دېوال نوم را وځي، د کوم چي پدي ځمکه د کلي د اباديدو پر وخت شتون درلود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ